# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د خلافت له راپرځېدو وروسته سل کلونه کېږي چې موږ د يتيمانو غونډې يو

د خلافت د راپرځېدو سل هجري کلونه پوره کېږي چې سل کاله وړاندې په رجب کې ړنګ شو. د خلافت تر سيوري لاندې له زرو کلونو راهيسې، مسلمانان د سياست، پوځ، اقتصاد او تعليم په بېلا بېلو برخو کې نړيوال مشران وو. په هر صورت، په عربو او ترکانو کې د غدارانو په مرسته، صليبي يرغلګرو هېوادونو د ډېرو هڅو په پايله کې زموږ ډال له منځه يوړ.

زموږ له ډال پرته، موږ له ۵۰ څخه پر ډېرو هېوادونو د وېشلو له امله کمزوري شوو. په هر دولت کې د اسلام د پلي کولو پر ځای، داسې واکمنان استخدام شول چې تر فاسد استعمار لاندې د نړۍ نظم ته وفادار وو. د يو وسله وال ځواک په توګه د يو ځای کېدلو پر ځای، د دې پر ځای چې زموږ سرتېري د مسجد الاقصی او مقبوضه کشمير د ازادولو لپاره حرکت وکړي، دوی له يو بل سره د مقابلې لپاره ووېشل شول. جهاد وځنډول شو، په داسې حال کې چې د کفري هېوادونو پوځونه زموږ په خاوره کې په ازاده توګه داسې ګرځي، لکه دا چې د دوی ميراثي ملکيت وي. په ميليونونو ماشومان يتيمان شول، په سلګونه زره مسلمانان په شهادت رسېدلي او پر زرګونو پاک لمنو ښځو جنسي تېری شوی دی. زموږ خاورې د کفري استعمارګرو دولتونو لپاره د جګړې ډګر او غنيمت ګرځېدلي دي، په داسې حال کې چې موږ يوازې خپل مړي خښوو او ننداره يې کوو، استعمارګر زموږ د لويو سرچينو څخه کار اخلي او د غرب اقتصاد يې پرې پياوړی کړی. په داسې حال کې چې موږ له هغه وخت وروسته د بې وزلۍ او کړاو په اور کې سوځو، کله چې بيت المال د شتمنو او بډايه خلکو څخه عشر، ذکات او خراج راټولاوه او پر خلکو يې داسې وېشه چې د دوی اړتياوې پوره کړي او درانه بارونه ترې لېرې کړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** غرب له موږ څخه غواړي چې ګواکې موږ يو مصرف شوی ځواک يو او نه شو کولای د دې فاسد نظم پر وړاندې ودرېږو، نو موږ اړ يو چې د استعمار نړيوال نظم او تمدن د غلامانو په توګه ژوند وکړو. په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی اسلامي نړۍ ته سر شاره سرچينې، ستراتيژيک موقعيتونه، ځوان نفوس، ميليونونه سرتېري چې د شهادت او فتح غوښتونکي دي، عصري وسلې او په حقيقت کې يې اسلام پرې لورولی دی. يوازې خلافت کولای شي چې زموږ اصلي ظرفيت رابرسېره کړي او پر هغه څه به حکم کوي چې الله سبحانه و تعالی نازل کړي دي. حزب التحرير هغه وفادار لارښود دی، چې خپلو خلکو ته دروغ نه وايي، د راتلونکي خلافت لپاره يو بشپړ اساسي قانون او همدا راز نور قوانين او تګلارې لري او له موږ ټولو څخه غواړي چې په دې مبارزه کې ګډون وکړو.

په اسلامي نړۍ کې یوازې هغه وخت بدلون راتللی شي، چې اوسنی جوړجاړی او حاکمیت له منځه یوړل شي. پاکستان د یو داسې موقعیت په توګه غوره شي چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت د تاسیس ویاړ تر لاسه کړي. موږ ګورو چې د هرې ورځې په تېرېدلو سره غرب غواړي موږ نور هم په غلامۍ کې ښکېل کړي. سل کلونه کېږي چې موږ د غرب تر ارزښتونو لاندې ژوند کوو، ایا اوس هم د دې وخت نه دی رارسېدلی چې اسلام او حاکم نظام یې بیا تاسیس کړو؟ په حقیقت کې د خلافت د بېرته راستنېدلو وخت ډېر ځنډېدلی دی! نو راځئ چې د خپل ډال په توګه د خلافت د تاسیس له لارې خپل ورک شوی عزت او وقار بېرته تر لاسه کړو. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

**ژباړه:** *«له شک پرته چې امام (خلیفه) ډال دی، شاته یې مسلمانان جګړه کوي او د هغه په وسیله یې ملاتړ او ساتنه کېږي.»* [مسلم]

**#خلافت_بیا_تاسیس_کړئ**

**#أقيموا_الخلافة**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**#خلافت_کو_قائم_کرو**

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۱**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۵۰/ ۱۴۴۲**